مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۹/۰۱/۰۷

# ټرمپ ته يو تاريخي درس

ښاغلی ټيم واينر مشهور امريکايي ليکوال دئ، او د امريکا د استخباراتو په باره کي ئي څو ټاپ کتابونه ليکي دي. ټيم واينر د جنوري پر ۷ په واشنګټن پوسټ کي ليکي جورج اورويل وايي: سياسي ژبه او تبليغات د دې لپاره وي چي درواغ رشتيا ثابت کړي، او قتل يو روا کار وښيي. جمهور رئيس ټرمپ د همدې مقولې ستر حامي دئ. پدې برخه کي د ټرمپ استعداد هله ښه بريښ وکوي چي د يوه مستبد رژيم دفاع کوي.

له بده مرغه ټرمپ اوس په داسي درواغو پيل کړی دئ چي غواړي د شوروي د ۱۹۷۹ اشغال توجيه کړي. هغه فقط څو ورځي مخکي وويل،«روسيي ځکه افغانستان اشغال کړي، ځکه چي تروريستان روسيي ته ور تلل. روسانو لاره چي افغانستان ته ورسي.» البته حقيقت دا دئ چي هيڅ افغان تروريسټ روسيه ته نه وو ور اوښتی. روسانو افغانستان ځکه اشغال کړ، څو په کابل کي د يوه ګوډاګي حکومت دفاع او ملاتړ وکړي.

شورويانو په افغانستان زيات جنايات وکړل، او په لکهاوو ملکي افغانان او د افغان مقاومت جنګيالي ئي ووژل. د هم هغو افغان مقاومت جنګياليو زامن او لمسان نن سبا په خپل ملک کي امريکايي اشغالګران وژني.

څرنګه چي موږ د افغانانو ملک اشغال کړی دئ، افغانان اوس موږ ته د شورويانو په سترګه ګوري.

اصلي خبره دا ده چي ټرمپ غواړي له افغانستانه راووځي. هغه قريب ۱۸ مياشت پخوا لا ويلي ول «د افغانستان جنګ يوه فاجعه ده، او بايد موږ له افغانستانه پاي پاکه راووځو.»

حقيقت دا دئ چي امريکا د افغانستان د جهاد يوه دايمي ملګرې وه. موږ دا هېروو چي موږ دا ۴۰ کاله هلته ښکېل يو مانا د شورويانو له اشغاله لس مياشتي مخکي موږ هلته وو.

د امريکا استخباراتو د افغان مقاومت ته په ميليارډو ډالره ور پمپ کړل. همدې پيسو د شوروي سور پوځ په فغان راوست، او د شوروي ۱۵ زره عسکر هلته ووژل سول. متحده ايالاتو فکر کاوه چي د ساړه جنګ وروستی جنګ ئي وګټی. خو دا موقفيت موقتي وو.

د امريکا د استخباراتو او خارجه وزارت په زرهاوو نامحرم سوي اسناد ښيي چي جمهور رئيس کارټر په ۱۹۸۰ کي قريب د سل ميلونو ډالرو په ارزښت وسلې د افغان مقاومت جنګياليو ته ور واستولې. د کارټر د وسلو نړيوال تجارت او انتقال تر هغه ډير جدي وو چي موږ په خبر وو. د کارټر هدف دا وو چي شورويان له افغانستانه پسي واخلي. متحده ايالات حتی پدې برخه کي د ايران له انقلابي حکومته هم مرسته اخيستله، حال دا چي هغوی امريکايان يرغمل کړي ول. د ۱۹۸۰ په کلونو کي، جمهور رئيس ريګن د افغان مقاومت سره هر کال ۷۰۰ ميلونه ډالره مرسته کوله، او په ساړه جنګ کي د امريکا تر ټولو ستر عمليات ول.

کله چي د ساړه جنګ په پای کي، موږ افغانستان خوشي کړ، موږ يوه خطرناکه خلا پرې ښوده. همدا خلا په يوه توپان بدله سوه. همدې تشي طالبان او القاعده وزيږول. او بالاخره د همدې جنګ زګزک امريکا ته راورسيد.

خير په هر صورت، په ۱۹۷۹ کي په کابل کي د امريکا سفير اډولف ډابس برمته او ووژل سو. د هغه په مرګ کي د کابل حکومت مسلماً مسؤليت لاره، او ښايي شورويانو هم برخه پکي لرله. پدې وخت کي، د امريکا د ملي امنيت مشاور ښاغلي برېژنسکي پدې لګيا وو چي د افغان مقاومت سره مرسته وکړي. بريژنسکي د امريکا د استخباراتو په محدوديتونو باندي ښه پوهېدی. هله سي ای ې (سيا) باور لاره چي شورويان به افغانستان ته زيات عسکر ور وا نه ستوي.

خو سيا دا وړانديز وکړ چي د مجاهدينو سره به د وسلو مرسته وکړي، او هم به د کابل د کمونستي رژيم پر خلاف د «يوې چټکي کودتا» لپاره لاري چاري ولټوي. په همدې وخت کي، سيا د افغانانو په مينځ کي تبليغات پيل کړ، څو هغوی د ښورښ لپاره ولمسوي.

په اول سر کي، جمهور رئيس کارټر په احتياط عمل کاوه. هغه سيا ته امر وکړ چي د افغان ښورښيانو سره د پيسو او غير نظامي وسايلو مرسته وکړي. د سيا پيسې ډيري کمي وې. د ۱۹۷۹ په دوبي کي د افغان مقاومت کش وکړ،



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د کابل په رژیم کي سیاسي لګه درګه زیاته سوه، او د شوروي نظامي مشاورینو تعداد هم زیات سو. خو بیا هم د سیا ارزیابي دا وه چي روسان به مستقماً نظامي مداخله و نه کړي.
سیا باور لاره چي مسکو به دا اشتباه و نه کړي چي د افغانستان تنګو او خطرناکه درو ته ور داخل سي، او داسي ځای ته ورسي چي سکندر، جنګیز خان، او انګریزان په کښي مات سوي ول. سیا همدا موقف د ۱۹۷۹ تر آخر پوري ټینګ کړی وو. خو پدې وخت کي، شورویانو افغانستان ته څه باندي یو لک عسکر ور مارش کړل. سیا په همدې وخت کي، جمهور رئیس کارټر ته یو پیغام واستاوه چي ویل ئې د شوروي عسکر په افغانستان ننوتل.
د شوروي د سیاسي بیرو اسناد ښیي چي شورویانو د ۱۹۷۹ په مارچ کي د افغانستان د اشغال لپاره تیاری نیوی. هغوی لدې څخه ډارېدل چي په افغانستان کي به یو اسلامي نظام د شوروي ۴۰ میلونه مسلمانان وپاروي.
جمهور رئیس کارټر د ۱۹۷۹ د دسمبر پر ۲۷ باندي په سپینه ماڼۍ کي د امریکا د ملي امنیت د شورا یوه اضطراري غونډه جوړه کړه،او یو سري امر لاسلیک کړ:«موږ نهایي هدف له افغانستانه د شوروي اتحاد د قواوو ایستل دي. که چیري دا هدف نه سي ترلاسه کېدلای، موږ باید د شورویانو لپاره د افغانستان اشغال د ممکن حد پوري قیمتي وکړو.»
د ۱۹۸۰ د جنوري پر ۲۱ مه، سیا قریب ۱۶ ټنه وسلې او مهمات د پاکستان استخاراتو ته ورکړې، څو پاکستان ئې افغان ښورښیانو ته تسلیم کړي. سعودي عربستان له مصر څخه د شوروي جوړوي سوي وسلې رانیولې، او سیا همدا وسلې پاکستان ته انتقال کړې. چین هم پدې هشت و مشت کي خپله ونډه واخیسته. او د ۱۹۸۰ په ژمي کي څه باندي دوه زره شوروي عسکر او په زرهاوو افغان عسکر د جنګ په میدانونو کي وژل سوي ول.
پدې وخت کي، د امریکا د ملي امنیت د شورا یوه مامور بریژنسکي ته د افغان مجاهدینو په باب داسي لیکي ول:«افغان مجاهدین عموماً زیږ او کرغېړن خلګ دي. که چیري هغوی قدرت ونیسي، زه دا ببره لرم چي هغوی به د بشر د حقوقو په برخه کي زیات مشکلات ولري.» خو سیا پدې وخت کي، د ګلبدین حکمتیار سره زیاته مرسته کوله. متحده ایالاتو او ملګرو ئې حکمتیار ته د یو میلیارډ ډالرو په ارزښت وسلې ورکړې.
ما د ګلبدین حکمتیار سره په ۱۹۹۲ کي ملاقات وکړ. هغه راته وویل،«موږ همدااوس یو نیم میلون شهیدان ورکړي دي. موږ چمتو چي د یوه واقعي اسلامي نظام د برقرارۍ لپاره نور شهیدان هم ورکړو. موږ آماده یو چي په غرونو کي ۱۴ کاله نور هم پاته سو.» د ګلبدین حکمتیار پاتي شوني اوس هم په غرونو کي ناست دي، او امریکایان وژني.
د ۱۹۸۰ د جون په میاشت کي، بریژنسکي د سیا هغه پلان تصویب کړ چي د ایران څخه ئې په سري توګه وسلې افغان مجاهدینو ته رسولې، البته دا په داسي وخت کي ول چي ایران ۵۲ امریکایي دپلوماتان برمته کړي ول. د دې پلان سره سم به امریکا وسلې په بین المللي مارکیټ کي رانیولای، پاکستان به همدا وسلې ایران ته رسولای، او ایران به همدا وسلې د افغانستان غربي سیمو ته انتقالولای.
د جمهور رئیس ریګن د راتګ سره سم، هر څوک پدې پوهېدی چي د افغان عملیات به لا پراخ سي. د ریګن انتخابېدو سره سم، د پاکستان د ای ایس ای رئیس، جنرال اختر عبدالرحمن، د سیا د سري عملیاتو مشر، ښاغلي جان مک ماهون، ته په سعودي عربستان کي وویل، پاکستان کولای چي افغانستان ته هر څونه وسلې چي امریکا غواړي انتقال کړي. د سعودي عربستان د استخباراتو رئیس، شهزاده ترکي فیصل، په همدې مجلس کي د سیا مامورینو ته وویل چي سعودي عربستان به د امریکا د پیسو په اندازه د افغان مجاهدینو سره مرسته وکړي. سمدستي په افغانستان کي د پیسو او وسلو باران پیل سو.
خو کله چي شورویانو افغانستان خوشي کړ، امریکایانو هم افغانستان ته شا کړه.
ما په افغانستان کي په ۱۹۹۴ کي سفرونه وکړ. هلته د جهان له ګوټ ګوټ څخه جهادیان راغونډ سوي ول. هغوی غوښتل چي پر امریکا باندي حمله وکړي. هله د جهادیانو په مینځ دا خبري رواني وې چي هغوی د جهان یو سوپرپاور مات کړ، اوس د امریکا د راچپه کولو وخت رارسېدلی دئ. پدې وخت کي، امریکا په افغانستان کي هیڅ حضور نه لاره، او نه ئې هم چا ته پیسې ورکولې.
زه د کنړ د مست سیند پر غاړه ناست وم، او د حاجي رحمت خان خبرو ته مي غوږ نیولی وو. هغه د خپل نارنجو او انارو د باغ کیسه راته کوله چي څرنګه ملحدو کمونستانو ئې باغونه ور وران کړل. هغه یو بوډا سړی وو، اوږده ږیره ئې لرله، او سترګي ئې برېښندې. هغه د بل جنګ د راتلو اټکل داسي کاوه.«په افغانستان کي یو اور بل دئ. کله چي ستا په کور کي اور بل وي، او ستا ګاونډی د دې اور په وژلو کي مرسته نه کوي، دا به څرنګه ګاونډی وي؟ آیا هغه پدې نه پوهېږي چي یو وخت به همدا اور د ده کور ته هم ور ورسېږي؟»

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ